بسم الله الرحمن الرحيم

# د غونډې خبرې

هغه ګران بيه ميراث چې اهلبيتو(ع) له ځانه وروسته پريخی دی او د هغوي لارويانو هغه له ورک شونې څخه ساتلی دی د مکتب يوه کامله بيلګه ده چې د اسلامي علومو بيلا بيلې څانګې لري. او د علم ډير تږي يې له دې چينې خړوب کړي دي. او داسې عالمان او پوهان يې اسلامي امت ته ورکړي دي چې د اهلبيتو(ع) د علمونو په رڼا کې په اسلام باندې د بيلا بيلو سوالونو، شبهو فکري بې لاريو ځواب ورکړي، او په تېر شوي پيړيو کې يې د سوالونو د ټولو نه ښه ځوابونه او د مشکلاتو د حل لارې ښودلي دي.

د اهلبيتو(ع) نړيوالې غونډې - لپاره د دې چې دا ذمه واري يې اختسې ده - د رسالت له حريمه او د حقو اعتقاداتو نه دفاع ته ورانده شوی ده. هغه حقيقتونه چې د بيلا بيلو فرقو، مذهبونو او د اسلام مخالفوخلکو هميشه د هغې په مخالفت کې کوښښ کړی دی. د اهلبيتو نړيواله غونډه په پاکې لارې کې، ځان د اهلبيت (ع) د ريښتني لارويانو او شاګردانو څخه ګڼي، هغه شاګردان چې هميشه دې تهمتونو لرې کولو ته تيار وو او دا کوښښ کوي چې په هره زمانه کې د زمانی د غوښتو مطابق د دې جنګ په لومړي سر پاتې شي.

هغه تجربې چې په دې بڼه د اهلبيتو(ع) د مکتب د پوهانو په کتابونو کې ذخيره شوې او راټولې شوې دي، د هغې مثال نه ملاويږي. ځکه چې دا تجربې او دليلونه چې ټول د عقل سره سم او له بې ځايه تعصبه پاک دي، متخصصان او پوهان او عاقلان داسې مخاطب کوي چې د هغوي عقل او پاک فطرت دا دليلونه ومني او قبول يې کړي.

د اهلبيتو(ع) نړيوالې غونډې دا کوښښ کړی دی چې د دې تجربو نوې ټوک، د دې زمانې د محققانو، ليکوالانو او د هغه کسانو چې د

اهلبيتو(ع) مذهب يې قبول کړی دی، کتابونه چاپ کړي او د حقيقت د چينې تږو ته يې وړاندې کړي.

دې غونډې د شيعه وو د تېر شويو عالمانو ليکل شوې کتابونه او تحقيقات هم چاپ کړي دي چې دا کتابونه به هم د حقيقت د لټوونکو لپاره د يو خوږې چينې په شان وي. او په دې زمانه کې چې عقل په تکامل او پوره کيدو دی، د اهلبيتو(ع) هغې حقيقتونو ته چې د نړيوالو لپاره يې د تحفی غوندې پريخي دي غوږ کيدي.

هيله لرو چې د دې غونډې د کتابونو لوستوونکي به مونږ له خپلو قيمتي وړانديزونو او ښو نيوکو څخه خبر کړي.

همدارنګ ټولو مؤسسو، پوهانو او ژباړه کوونکو ته بلنه ورکوو چې د ګران پيغمبر(ص) دين په خپروني کې له مونږ سره مرسته وکړي.

له خدايه دا سوال کوو چې زمونږ دا وړکې غوندې کوښښ په خپلې درګاه کې قبول کړي او د اخري امام مهدي (عجل الله تعالي فرجه الشريف) د سوري لاندې نور توفيق هم راکړي.

دې ځاي کې مناسبه ګڼو چې د خوږ استاد ښاغلي عبدالرحيم دراني څخه مننه وکړو چې د دې کتاب په ژباړې کې يې له مونږ سره مرسته وکړه او همدارنګ له هغې کسانو چې د دې کتاب په پوره کيدو کې يې له مونږ سره مرسته کړې، په بيله توګه هغه کسان چې د ترجمې په اداره کې کوښښ کوي.

د اهلبيتو(ع) د نړيوالې غونډې

فرهنګي معاونت

# لنډه پېژندګلو

| | |
|---|---|
| نوم: | علي |
| لقب: | هادي |
| د پلار نوم: | محمد |
| د مور نوم: | بي بي سمانه |
| زوکړه: | د ذي الحجې پنځلسمه |
| امامت: | درې دیرش کاله |
| عمر: | درې څلویښت کاله |
| شهادت: | د رجب دریمه نیټه |
| قاتل: | متوکل |
| زیارت: | سامرا (عراق) |
| اولاد: | څلور زامن یوه لور |

## لسم امام حضرت على نقى عليه السلام

امام ابو الحسن علي نقي عليه السلام د هجرت د 212 كال[1] د ذي حجې په پنځلسمه د مدينې په خوا كښې په "صريا" نومې ځائې كښې وزيږيده[2]. پلار نوم ئې نهم امام حضرت امام محمد تقي عليه السلام او مور ئې يوه فاضله او پرهيزګاره كنيزه سمانه بي بي[3] وه.

1 . اعلام الورى ص355 ارشاد مفيد ص307
2 . هماغه
3 . هماغه

د لسم امام مشهور لقبونه نقي او "هادي" دی او دوي ته څلورم ابوالحسن هم ویل کیږي.[1] (لومړي ابو الحسن حضرت امام علي علیه السلام، دویم ابو الحسن امام موسي بن جعفر علیه السلام او دریم ابو الحسن امام علي الرضا علیه السلام دي.)

امام هادي علیه السلام د هجرت په **220** کال د خپل ګران پلار له شهادته وروسته د امامت په ګدۍ کښیناست. د دوي د امامت موده **33** کاله، عمر ئې **41** کاله او څو میاشتې ؤ او د هجرت په **254** کال شهید کړی شو.

د کتونکو راویانو له خلې د امام ونه متوسطه، مخ سور سپین، سترګې غټې، روزې اوږدې او مخ پراخه او غوړیدلي ؤ.[2]

د امام د ژوند په زمانه کښې اوؤ عباسي خلیفه ګانو حکومت کړی ؤ له امامته مخکښې د مامون او د مامون د ورور "معتصم" او د امامت په مهال کښې د معتصم، ددۀ د زامنو "واثق" او متوکل بیا د متوکل د ځوي منتصر، د منتصر د ترۀ د ځوي مستعین او د متوکل د بل ځوي معتز حکومتونه وو. امام د معتز په وخت شهید کړی شو.[3] د متوکل په

1 . اعلام الوری ص355

2 . منتهي الامال ص243

3 . ارشاد مفید ص307

حکومت کنبې د هغۀ په حکم امام له مدينې څخه د عباسيانو د حکومت مرکز سامرا ته راوستل شو او امام خپل پاتې ژوند د غلته تير کړ.[1] د امام زامن يولسم امام حسن عسکري عليه السلام ، حسين، محمد ، جعفر،دي او لور ئې يوه وه چې بي بي عليه نوميده.[2]

## د خلفاؤ کړچار

له ظالمو او غاصبو واکمنانو سره د پيغمبر(ص) د کورنۍ پرله پسې مقابله او مخالفت د اسلامي تاريخ ځونړۍ خو ځلاندې پاڼې دي. پاکو امامانو به تل د مظلومانو ظلم زپلو او دړديدلو کسانو لپاره د عدل او انصاف په غوښتنې سره زورور واکمنان او د هغوي ظالم تالي څټې قهرول، او غاصب خلفاچې پوهيدل چې دا امامان د خلقو د لاربنوونې، د دړديدلو له پلوي توب او له ظلم اوفساد سره مقابلې لپاره له هيڅ موقعې دريغ نۀ کوي. ددغو لاربنوونو مقابلو او انصاف غوښتلو څخه ورته تل خطره وه.

له مامون ورسته معتصم عباسي د امامت او نبوت د کورنۍ په خلاف د خپلو مشرانو هماغه غښتې او دسيسې

1 . هماغه

2 . اعلام الورى ص366

جاري وساتلې او له همدې امله ئې امام جواد علیه السلام له مدینې بغداد ته راوست چې تر کنټرول او څارنې لاندې وي او بالاخره ئې شهید کړي. او اکثره علویان ئې هم په دې بانې چې تورې جامې نهٔ اغوندي (چې د عباسیانو رسمي جامې وي) بندیان کړل. تر دې چې په بند کښې یا په خپله مړهٔ شول یا ووژل شول.

معتصم د هجرت په **227** کال سامرې کښې مړ شو او ځائې ئې ځوي واثق ونیوهٔ. دی هم د خپل پلار نیکانو په لاره روان شو او د نورو خلیفه ګانو په شان عیاش او شرابي وُ. په دې کار کښې به له حده تیریدهٔ او د زیاتې مزې او خوند لپاره به ئې خاص بوټي او درمل استعمالول چې همدغه بوټې د مرګ عامل شول او د هجرت په **232** کال په سامرا کښې ومړ.

واثق له علویانو سره سخت نهٔ وُ نو ځکه علویان او د حضرت ابي طالب اولاده دهغهٔ په دوران کښې په سامراء کښې راغونډ شول او تر یو حده سوکاله وو. خو د متوکل په حکومت کښې بیا تیت و پرک شول. له واثقه ورسته د هغهٔ ورور متوکل چې د عباسي حکومت تر ټولو خونړے مجرمه او ککړ څیره ده چارواک شو. امام علي نقي علیه السلام له دغه باچا سره تر نورو عباسي خلیفه ګانو زیات وخت تیرکړ چې قابو څوارلس کاله وُ او دا څوارلس کاله د امام او دهغهٔ د منونکو لپاره ډیر سخت کلونه وو ځکه چې متوکل د علي

عليه السلام له کورنۍ سره سخته کينه او ميرځي کوله او د هغهٔ په حکومت کښې ډير علويان ووژل شو يا وتښتيدل.

متوکل کوشش کوۀ چې خلق امامانو ته له پاملرنې واوړي او د هجرت په 236 کال ئې حکم ورکړ چې د شهيدانو د سرخيل امام حسين عليه السلام قبر او د خواۀ شا ودانۍ دې ورانې کړی شي. او زمکه دې هواره کړی شي چې خلق منع کړی شي. متوکل ويريدهٔ چې د امام حسين عليه السلام قبر به د هغهٔ په خلاف يو مرکز جوړ شي او د شهيدانو د سرخيل شهادت به د خلافت د دربار د ظلمونو په خلاف يو پاڅون ځائې وګرځي. نقل شوي دي چې دغه ملعون اولس ځله د امام قبر ړنګ کړ او په خواۀ شا کښې ئې د سپايانو څوکۍ جوړې کړې خو دغو ټولو پابنديو د امام حسين عليه السلام ليوال د هغهٔ له زيارته منعې نهٔ کړی شول زيارت کوونکو به سخت ظلمونه ځورونې او وهل ټکول زغمل خو د امام حسين عليه السلام له زيارته ئې لاس نهٔ اخستو. د متوکل له مرګه ورسته علويانو او د امام منونکو په ګډه د امام قبر بيا روغ کړ.

د امام حسين د قبر ړنګولو مسلمانان راوقهرول، دبغداد خلقو په ديوالونو او جماتونو کښې د متوکل په خلاف نعرې ليکلې او د هغهٔ په هجو کښې به ئې شعرونه ويل. په ځينو شعرونه کښې راغلي دي. بني عباس په دې افسوس کوي چې ولې د امام حسين عليه السلام په شهيداولو کښې شريک نهٔ وو او اوس د هم هغو قاتلانو په شان چې نور وس ئې نهٔ رسي

نو د امام حسین علیه السلام قبر ړنګوي. ژمنو او ذمه وارو شاعرانو به هم له خپل هنره استفاده کوله، د متوکل په خلاف به ئې شعرونه لوستل او خلق به ئې د بني عباسو جرمونو ته متوجې کول. متوکل به د هر اواز د خپې کولو لپاره هره یوه شکنجه او جرم کارولو او کومو شاعرانو به چې له هغهٔ سره ساز باز او غښتې ته غاړه نه کېښوده، په کلکه ځپل او بیا به ئې په بوګنوونکي ډول وژل.

ابن سکیت چې یو نامتو ادیب او شاعر دی او د عربو په ادبیاتو کښې ورته امام ویل کیږي د متوکل زامنو استاد ؤ. یوه ورځ متوکل خپلو دوؤ زامنو معتز او موید ته په اشارې سره له ابن سکیته پوښتنه وکړه دا دوړه دربانديې ډیر ګران دي که حسن او حسین؟ ابن سکیت زر ځواب ورکړ، د امیر المومنین علي علیه السلام مريې "قنبر" تر تا او ستا تر دوو زامنو ډیر غوره دي. متوکل له غصې تاؤ شو او حکم ئې ورکړ چې ددهٔ ژبه د شا له غاړې راؤباسئ. په دا ډول د میړانتیا دغه بیلګه د 57 کالو په عمر کښې شهید شو.

متوکل د مسلمانانو د بیت المال په خرچولو کښې د نورو خلیفه ګانو په شان خلاص لاس لرلو. د هغهٔ د ژوند په تاریخ کښې ئې لیکلي دي چې بیلا بیلې ماڼې جوړې کړې وې او یوازې په "متوکل ماڼۍ" ئې چې اوس هم په سامرا کښې موجوده ده یو میلیون او اوهٔ لکه د سرو دیناره لګولي وؤ. تر هر څهٔ دړدونکې داده چې له دغو دومره اسرافونو او خرڅونو

سره سره ئې د پيغمبر(ص) په کورنۍ دومره سختي کوله چې په هغو کښې له ځينو سره دويمه جوړه جامې هم نۀ وې.

له امير المومنين علي عليه السلام سره د متوکل دښمني او ميرڅي تر دې حده دسيدلې وه چې هغه ئې د پستۍ او رذيلۍ لوئې ګړنګ ته غورزولي ؤ. له ناصبيانو او د علي عليه السلام له دښمنانو سره به ئې دوستي کوله. او يو ټوکمار ئې ساتلي ؤ چې په بيلا بيلو مسخرو او ټوقو سره به ئې حضرت علي عليه السلام پورې خندا کوله او متوکل به ورته خندل. متوکل غوندې سړي څخه داسې کارونه ډير حيرانوونکي نۀ دي بلکې حيرانوونکي او دردونکي خو د هغو خلقو حالت دی چې داسې رذيل او ککړ کسان د پيغمبر (ص) پاکې کورنۍ ته ئې شا کړې ده او د داسې خليفه ګانو پيروي کوي. متوکل عمر بن فرح رخجي د مکې او مدينې ګورنروټاکۀ هغۀ به خلق د حضرت ابو طالب له کورنۍ سره له مينې او ښيګړې منعې کول تر دې چې خلقو د علويانو له ملګرتيا او ملاتړه لاس واخستو او د حضرت علي عليه السلام کورنۍ ته ژوند سخت شو.

## سامرا ته د امام راتلل

هغه ډار او ويرې ته په پام سره چې زورورو خليفه ګانو له امامانو لرله ممکنه نۀ وه چې دوي امامان خپلې خوښې ته

پرېږدي. متوکل خو له دې ويرې سره سره د امير المومنين له کورنۍ سره سخته ميرچي او تربګني هم لرله نو فيصله ئې وکړه چې امام هادي عليه السلام له مدينې، سامرا ته راولي او له نږدې ئې وڅاروي.

متوکل د هجرت په **243** کال امام له مدينې څخه سامرا ته جلاوطن کړ او د خپل پوځي کيمپ په خوا کښې ئې ورته ځاي ورکړ. امام خپل ټول پاتې عمر يعني د هجرت تر **254** کالنۍ پورې هلته ديره ؤ.او متوکل او تر هغه ورسته نورو خليفه ګانو امام په کلکه څارۀ تر دې چې شهيد ئې کړ.

امام چې کله سامرا ته ورسيد نو متوکل په لومړۍ ورځ ښار ته دننه پرې نۀ ښود. د ښار په خوا کښې د خان الصعاليک په نامه يو ځائې کښې چې د فقيرانو او خيرات غوښتونکو ځائې ؤ، پاتې کيدو ته مجبوره کړ او سبا ئې سامرا ته پريښود.

صالح بن سعيد وائې خان الصعاليک ته د امام د راتللو په ورځ هغوي ته ورغلم او ومې ويل له تا ځار شم دا ظالمان غواړي چې په هر څۀ کښې ستا سو بې عزتي وکړي او نور مو ګل کړي. تر دې چې تاسو ئې اوس په دې بيکاره او خرابې سرائې کښې ايسار کړئ. امام په لاس سره يو اړخ ته اشاره وکړه او ماته ئې وويل وګوره ما چې وکتل نو ښکلي، سينګار شوي باغونه او روان نهرونه او د بهشت ښکلې ښکلې نظارې مې وليدې. حيرانه شوم او ډير تعجب مې وکړ.

امام وفرمایل: اي د سعید ځویه! مونږ چې هر چرته یو دا ځیزونه له مونږ سره دي. مونږ په خان الصعالیک کښې نۀ یو.[1]

امام هادي علیه السلام ته په سامراکښې د پاتې کیدو په وخت ډېر غمونه، دډدونه او کړاوونه ورکړي شول. په تیره بیا دا چې متوکل به هر وخت ګواښلو او له خطره سره مخامخ ؤ. او تاریخ داسې ډیر څۀ لیکلي دي چې ښائي په امام باندې دغلته ډیر ظلمونه وشول.

یو ستر اهلسنت عالم ابن جوزي وائي: یوه ورځ څارګرو متوکل ته شکایت وکړو چې د امام په کور کښې وسله ، پټ لیکونه او نور خطرناک سامان موجود دی او غواړي چې د حکومت په خلاف بلوا وکړي. د متوکل په حکم ځینو کسانو د شپې د امام په کور چاپه واچوله، ټول کور ئې لټ په لټ کړو خو څۀ په لاس ورنۀ رغلل او امام ئې ولید چې په یوې کوټې کښې قران په لوستلو لګیا دی. امام ئې په هماغه حالت کښې متوکل ته بوتلو او وې ویل چې په کور کښې مو څۀ ونۀ موندل. متوکل چې کله امام ولید ، نو د امام عظمت او هیبت پرې اثر وکړو او بې اختیاره ئې په احترام سره په خپل څنګ کښې کښینولو او امام ته ئې د شرابو د هغه جام چې په لاس کښې ئې ؤ، ست وکړو. امام وفرمایل: چې په خدائې قسم مونږ تر اوسه دې ځیز ته لاس نۀ دی وروړی. متوکل وویل: ښه

1 . ارشاد مفید ص 314، 313

نو بيا يو شعر ووايه. امام وفرمايل: زۀ شعر ډير کم وايم. متوکل ووېل: څۀ يو شعر ووايه. امام ځينې شعرونه ولوستل چې ترجمه ئې دا ده:

"د غرونو په څوکو کښې ئې شپې سهار کړې و تواغنو کسانو ئې ځارنه کوله خو د غرونو څوکو دوي د مرګ له خطره ونۀ ژغورل. نو د عزت او د امن له ټاټوبو راکوز کړی شول او د خاورو سينو ته وسپارل شول چې د هغوي لپاره ډير ناخوښ ځائې ؤ.

کله چې پرې خاورې واورېدې نو يو سړي غږ پورته کړ څه شو هغه د سرو بنګړي تاجونه او جامې چې دوي به پرې وياړ کاوۀ. چرته دي هغه څيرې چې په نعمتونو لورينو او نيازبينو کښې لوئې شوې، د احترام لپاره به ئې پردې لګول کيدې او مريان به ورته لاس تړلي ولاړ وؤ. نو له ګوره و خاورې غږ پورته شو چې په هغو يې څيرو او مخونو اوس چنيجي لګيا دي"

د امام کلام دومره اغيز وشيندۀ چې متوکل په ژاړا شو، ږيره ئې په اوښکو لمده شوه، نورو درباريانو هم ژړل او متوکل حکم ورکړ چې د شرابو ټغر ټول کړئ، بيا ئې امام ته څلور زره درهمه ډالۍ کړل او په احترام سره ئې ستون کړ.

بالاخره د متوکل شرموونکی حکومت پائې ته ورسيدو او د هغۀ ځوي منتصر په اشارې او همخولو سره د هغۀ ځينو ترکو سپيانو هغه سره له خپل وزيره فتح بن خاقان په داسې

حالت کښې په عيش او شرابو کښې ډوب ؤ، ووژل. منتصر د هماغه شپې په سهار چې متوکل ووژل شو د خلافت واګې په لاس کښې واخستې او حکم ئې ورکړ چې د پلار ځنې ماڼۍ ئې ړنګې کړي شي. دهٔ له علويانو سره کينه او ميرڅي نهٔ لرله، هغوي ئې نهٔ زورول، خلق به ئې د امام حسين عليه السلام قبر ته پريښودل او حکم ئې ورکړ چې "فدک" د امام حسن او امام حسين عليهما السلام اولاد ته ستون کړی شي. او د ابو طالب د کهول وقف څيزونه ئې ازاد کړل. د منتصر د خلافت دوره ډيره لنډه يعني يوازې **6** مياشتې وه او د هجرت په **248** کال مړ شو.

تر هغهٔ وروسته د هغهٔ د ترهٔ ځوې او د معتصم لمسې مستعين خليفه شو دهٔ هم د زړو خليفه ګانو لاره خپله کړه، ددهٔ په خلافت کښې ځينې علويان راپاڅيدل خو ووژل شول. مستعين د ترکو بلواګرو په وړاندې ټينګ نهٔ شو، بلواګرو معتز له بنده راووست او بيعت ئې ورسره وکړ. د معتز قيصه اوږده شوه او لنډه دا چې مستعين ورسره سولې ته مجبور شو، معتز ورسره ظاهرا سوله وکړه. مستعين هغه سامرا ته راوغوښت او په لاره کښې ئې مړ کړو. مستعين خپلو ځينو خپلوانو او ترکو مشرانو ته اجازت ورکړې ؤ چې په خپله خوښه له بيت الماله چې څهٔ ئې زړهٔ غواړي، اخلي دې. خو له امامانو او علويانو سره ئې بد سلوک کوؤ. د ځينو روايتونو په اساس امام عسکري عليه السلام ورباندې نفرين وکړ او له

منځه لاړ، له مستعینه وروسته د متوکل ځوې او منتصر ورور خلیفه شو. دې هم د علویانو سره ښه نه ؤ. ددهٔ په حکومت کښې هم ډیر علویان ووژل شو او امام هادي علیه السلام هم ددهٔ په زمانه کښې شهید شو.

معتز بالاخره د ترکو مشرانو له بلوا سره مخامخ شو. بلواګرو هغهٔ ته ماتې ورکړه او له وهلو ورسته ئې په یوې تاخانې کښې بند کړ او هم هلته مړ شو.

## د امام محدودیت او شهادت

هوښیاران او پوهان کهٔ د امام هادي علیه السلام په ژوند ځغلند غوندې نظر هم وکړي نو ورته څرګندیږي چې امام په خپل ټول عمر کښې له ساډوبي، څارنې او بندیزونو سره مخامخ ؤ. دا حالت یوازې د دې امام په همدې طریقې سره وو. د خلقو په ګټو به ئې سترګې پټولې او اولس به ئې د خپلو ګټو لپاره یوه وسیله ګڼل. ددغه ظالمو خلیفه ګانو په وخت کښې د رعب او ویرې داسې فضا جوړه شوې وه چې خلق د طاغوتیانو په خلاف له پاڅونه ویریدل او په همدې وجه ئې له امام سره رابطه ډیره کمه وه. امام هادي علیه السلام د غو ټولو کړاوونو او مصیبتونو له زغملو سره سره له ظالمانو سره ساز باز ته غاړه کښېنښوده. بني عباس به تل له دې مسئلې

ځوريدل او دا خبره ئې خوښه نۀ وه او بالاخره ئې د امام د شهيدولو فيصله وکړه.

په دې ډول امام هادي عليه السلام هم د خپلو پلار نيکانو په شان په خپل مرګ وفات نۀ شو بلکې د عباسي باچا معتز په وسيله ورته زهر ورکړې شول او د هجرت په **254** کال د رجب د مياشتې په دريمه نيټه له دنيا لاړ او په سامرا کښې په خپل کور کښې خاورو ته وسپارل شو.[1] معتز او د هغۀ پلويانو کوشش کوۀ چې خپل ځانونه د امام دوستان وښائي او د جنازې په دستورو کښې په ګډون سره خپلو سپيرو موخو ته ورسيږي او په خپل جرم پرده واچوي خو له دې امله چې د امام د جنازې مونځ بايد امام وکړي، امام حسن عسکري عليه السلام په کور کښې د خپل پلار د جنازې مونځ وکړ او چې کله ئې جنازه بهر راوويستله نو بيا معتز خپل ورور احمد بن متوکل راواستوۀ چې د امام د جنازې مونځ وکړي. په جنازه کښې د خلقو ژړاګانې او نعرې سورې ډيرې زياتې شوې او د جنازې له دستورو وروسته ئې امام په خپل کور کښې خاورو ته وسپارۀ.

## د امام ځينې کرامات

1 . ارشاد مفيد ص 314 اعلام الورى ص 355 انوار البيهيه ص15

له امام هادي عليه السلام ډير کرامات پاتې دي چې د تاريخ په کتابونو کښې ليکل شوي او د ټولو وړاندې کولو ته يو ځانته کتاب پکار دي. زۀ دلته د هغوي په څو کرامتونو ځغلند غوندې نظر کوم.

1: په وړوکوالي کښې امامت او لار ښوونه:

لکه څنګه مې چې مخکښې هم اشاره وکړه، امام هادي عليه السلام د خپل ګران پلار له شهادته وروسته په اتۀ کلنۍ کښې امامت ترلاسه کړ او دا په خپله د هغوي له روښانه کراماتو څخه ده ځکه چې ديو اسې مقام او لوئې مسئوليت او دندې سمبالول چې الهي دنده ده، نۀ يوازې د ماشومانو بلکې د ډيرو لويو له لاسه هم نۀ کيږي. او دې ته په پام سره چې د هغه وخت مسلمانانو او د امامانو منوونکو به د يو امام له شهادته وروسته په بيلا بيلو مسئلو کښې بل امام ته رجوع کوله او کله کله به ئې هغه ازمايلو، همداراز د امام هغه خپلوان او علويان چې لوئې وو، د امام کور ته ئې تګ راتګ درلود او له امام سره ئې ګډ ژوند درلود. نونامممکنه وه چې يو وړوکي ماشوم د خدائې پاک له تائيد او مرستې پرته او له خدائې سره له ارتباطه علاوه داسې لويه ذمه واري پوره کړې شي او ګرانو ګرانو پوښتنو ته سم ځوابونه وويلي شي. او بله دا چې دا خو هر يو کس کولې شي چې پوهه شي چې ايا دا يو

معمولي سړي يا ماشوم دي او که نۀ رهبر او لارښود دی او بل مقام لري.

## 2: د واثق د مرګ خبر:

خيران اسباطي وائي له عراقه مدينې ته لاړم او د امام هادي عليه السلام په خدمت کښې حاضر شوم. هغوي له ما وپوښتل چې واثق څنګه ؤ، ومې ويل روغ رمټ ؤ او ما ته ئې ښه پته ده ځکه چې اوس اوس له هغۀ راغلې يم. امام وفرمايل: خلق وائي چې هغه مړ شو. کله چې امام دا خبره وکړه نو پوهه شوم چې د خلقو نه د هغۀ مطلب خپل ځان دی. بيا ئې ماته وويل متوکل څۀ کول؟ ومې ويل: په بند کښې په ډير بد حالت کښې ؤ. وې فرمايل: هغه به خليفه وي. بيا ئې وفرمايل: ابن زيات څۀ کول؟ ومې ويل بس د هغۀ خبره چليده او خلق ئې ټول ملګري وو. وې فرمايل: مشري او واکمني هغۀ ته سپيرۀ ده. بيا لږ غلی شو او وې فرمايل: د خدائې پاک د احکامو له اجرا او تقديره تيښته نشته. اې خيرانه! واثق مړ شو، جعفر متوکل د هغۀ ځائې ونيو او ابن زيات ووژل شو عرض مې وکړو: کله؟ وې فرمايل ستا له راوتلو شپږ ورځې پس. او څو ورځې پس د متوکل قاصد مدينې ته راورسيد او قيصه هماغه شان وه، څنګه چې امام فرمايلې وه.[1]

1 . الفصول المهمه ابن صباغ مالکي ص279

### 3: په ترکۍ ژبه خبرې:

ابو هاشم جعفري وائي کله چې د واثق د لښکر سرخیل بغا د عربو د نیولو لپاره له مدینې تیریدۀ نو زۀ هلته ؤم. امام هادي علیه السلام مونږ ته فرمایل: راځئ چې د دې ترک لوښې لرګي وګورو. بهر راووتلو او ودریدو د ترک سپایان زمونږ په خوا کښې تیر شول او بیا ترک راورسیدۀ. امام ورسره په ترکۍ ژبه خبرې وکړې. هغه له اسه راکوز شو او د امام پښې ئې ښکل کړې.

ابو هاشم وائي: ترک ته مې قسم ورکړو چې تاته ئې څۀ ووئې؟ ترک تپوس وکړو دا سړي پیغمبر دی؟ ومې ویل: نه. وې ویل: ماته ئې هغۀ نوم واخستو چې په وړوکوالي به په خپل کلي کښې راته خلقو اخستلو او تراوسه له دغې نامې څوک هم خبر نۀ وو.[1]

### 4: د زمرو تواضع

اهل سنت عالم شیخ سلیمان بلخي قندوزي په خپل "ینابیع المودة" کتاب کښې لیکي: مسعودي رانقل کړې ده چې متوکل حکم ورکړ چې درې زمري د هغۀ مانۍ ته راولي. بیا

1 . اعلام الوری ص359

ئې امام ته بلنه ورکړه کله چې امام ماڼۍ ته ننوت نو دوي ورپسې وربند کړ او زمري ئې ورپرېښودل. خو زمري چې کله امام ته ورنږدې شول نو سرونه ئې ټيټ کړل او د امام په پښو کښې پريوتل او امام ورسره په خپل لستوڼي سره مينه وکړه. بيا امام بلې کوټې ته لاړ او متوکل ورته راووتلو. له متوکل سره ئې خبرې وکړې او يو ځل بيا د زمرو په لاره له ماڼې ووتلو. متوکل ته چا ووئې چې ستا د ترۀ ځوې (امام هادي عليه السلام) سره خو زمرو ډير ښۀ سلوک وکړو تۀ نۀ ورځې؟ وې ويل: تا جوړ زما مرګ ته اړولې ده،بيا ئې حکم ورکړ چې دا قيصه څرګنده او اشوه نۀ شي.[1]

## 5: د امام عظمت او هيبت:

اشتر علوي وائي: له خپل پلارسره د متوکل په کور کښې ناست ؤم او لا وړوکې ؤم. د ابو طالب عليه السلام، عباس او جعفر د کورنۍ ځينې کسان هم موجود وو. امام هادي عليه السلام راننوت د متوکل په کور کښې ټول کسان د هغۀ عزت او احترام ته پاځيدل او سوارۀ له اسونو راکوز شول. ځينو کسانو خپلو ملګرو ته وويل چې ولې دې کس ته پاځيدو، حال دا چې نۀ تر مونږ زيات عزت او شرافت لري او نۀ ئې عمر تر مونږ زيات دي دا ځل چې راشي نو بلکل ورته نۀ پاڅو. ابو

---

1 . احقاق الحق ج12 ص 451، 452

هاشم جعفري چې هلته موجود ؤ، وويل په خدائې قسم کله ئې چې ووينئ نو په خپله به ئې عزت ته پاڅئ. څو شيبې نۀ وې تيرې چې امام د متوکل له کوره راووت کله چې پرې د موجودو کسانو نظر پريوت نو ټول ئې احترام ته پاڅيدل. ابو هاشم ورته ووېل: تاسو خو وې چې نۀ به پاڅو؟ وې ويل په خدائې قسم ځانونه مو کنټرول نۀ کړې شول او بې اختياره پاڅيدو.[1]

6: د ګاونډي د ستونزې هوارول:

يونس نقاش په سامرې کښې د امام هادي عليه السلام ګاونډی ؤ او تل به امام ورته راتللو او دهغوي خدمت به ئې کولو. يوه ورځ امام ته په لړزانه راغي او وې ويل اي امامه! تا سو ته وصيت کوم چې تر ما ورسته زما له کورنۍ سره نيک چلند وکړئ. امام وفرمايل: څۀ شوي دي؟ عرض ئې وکړو: مړينې ته تيار شوی يم. امام په مسکا سره وپوښتل ولې؟ وې ويل: عباسي قوماندان او جرنيل موسي بن بفا ما له يو غمي راکړی ؤ چې انځور پرې جوړ کړم. غمي دومره قيمتي ؤ چې تر اوسه مانۀ ؤ ليدلي، کله مې چې پرې انځورونه پيل کړه نو غمي مات او دوه ټوټې شو. سبا له به موسي بن بفا راځي چې خپل غمي يوسي. نو موسي بن بفا خو به مې يا زر متروکې

1 . اعلام الورى306

ووهي يا به مې مړ کړي. امام وفرمايل: کور ته لاړ شه انشاالله سبا له به صرف خير ووينې.

سبا له هماغه وخت يونس چې رنګ ئې زيړ ؤ، امام ته راغي او وې ويل د موسي بن بفا استازي راغی او ګوتمه غواړي. امام ورته په خندا سره وويل: هغۀ له ورشه او څۀ چې درته وويل هغه واوره. که خدائې کوله نو خير خيريت دی. يونس لاړ او په خندا او خوشحالۍ سره راستون شو او عرض ئې وکړو: اي مولا! کله چې هغۀ له ورغلم نو راته ئې وويل چې زما دوو وړو لوڼو په دې غمي په خپلو منځو کښې جنګ وکړ نو که ممکنه وي دا دوه ټوټې کړه (او ددې کار انعام به هم درکړم) امام هادي عليه السلام د خدائې شکر وکړو او يونس ته ئې وفرمايل: تا ورته څۀ ووئې؟ عرض ئې وکړ ومې ويل مهلت راکړه چې لږ څۀ سوچ کړم چې دا کار څنګه ممکن دي؟[1] وې فرمايل ښۀ ځواب دې ورکړ.

7: د ابو هاشم مرسته:

ابو هاشم جعفري وائي: يو ځل سخت غريب شوم او د تنګ لاسۍ په وجه امام هادي عليه السلام ته ورغلم او چې کله ئې

1 . بخار الانوار ج50 ص 126، 125

اجازت راکړ نو کښیناستم وې فرمایل: اي ابو هاشمه! خدائې چې تاته کوم نعمتونه درکړي دي په هغو کښې د کوم نعمت شکر کولی شې؟ زۀ غلی شوم او ځواب راسره نۀ ؤ. امام په خپله وفرمایل: خدائې پاک تا ته ایمان درکړ او په دې ئې د دوزخ له اوره وساتلې. خدائې درته روغ صورت درکړ او تا سره ئې په خپل اطاعت کښې مرسته وکړه، او خدائې تاته قناعت درکړ او ستا عزت ئې خوندي کړ. بیا ئې وفرمایل: اي ابو هاشمه! ما دا خبرې ځکه وکړې چې ګمان کوم تۀ غواړې ماته د هغه چا شکایت وکړې چې دا ټول نعمتونه ئې درباندې لویلي دي. زۀ غواړم چې تاته سرو زرو سل دیناره درکړم. هنه دا واخله.[1]

## د امام علیه السلام شاګردان

سره له دې چې د ظلم او ساډوبې فضا له امامه د استفادې امکان ډیر کم کړې ؤ خو د امام ځینو لیوالو او مینه والو له خپل ظرفیت سره سم له امامه فیض حاصل کړ. شیخ

1 . بحار الانوار ج 50ص 129

طوسي(رح) د امام هادي علیه السلام د راویانو شمیر **185** تنه ښودلي دی چې په دغو کښې ځینې ځلاندې څیرې دا دې:

**1: حضرت شاه عبدالعظیم حسني(رح):**

دوي په راویانو او محققانو کښې لوئې مقام درلود او د شپږم، اوم او اتم امام ځینې لوئې اصحابان ئې لیدلي وو. او په خپله د امام جواد علیه السلام له مهمو راویانو او شاګردانو ګڼل کیږي.

صاحب بن عباد وائي: عبدالعظیم حسني په دیني چارو خبر او په مذهبي او قراني مسائلو پوره پوهه ؤ.

ابو حماد رازي وائي: د امام هادي علیه السلام خدمت ته حاضر شوم او د ځینو مسئلو پوښتنه مې وکړه. کله چې د امام له خدمته رخصتیدم وې فرمایل: کله چې درته څۀ ستونزه او مشکل درپیښ شو نو له عبدالعظیم حسني پوښتنه کوه.

حضرت شاه عبد العظیم د حکومت د څارګرو تر څارنې لاندې ؤ. او له خطرې څخه د بچ کیدو لپاره ایران ته راغي او په "رې" ښار کښې دیره شو. دي د امامانو په زمانه کښې له باوري راویانو ګڼل کیږي. د امیر المومنین حضرت علي علیه السلام د خطبو په باره کښې ئې یو کتاب لیکلي او یو بل کتاب ئې هم د "یوم و لیله" په نوم مشهور دی. ددې بزرګوار

زيارت د ايران د تهران ښار په خوا کښې په "رې" ښار کښې دی.

**2**: **حسين بن سعيد اهوازي**(رح):

د امام رضا عليه السلام، امام هادي عليه السلام او امام جواد عليه السلام له ملګرو څخه ؤ. او له دغو درې واړو څخه ئې روايتونه نقل کړي دي. په اصل کښې د کوفې دی خو له ورور سره اهواز ته او بيا قم ته راغي او په قم کښې له دنيا لاړ. حسين بن سعيد د فقې عالم ؤ.

**3**: **فضل بن شاذان نيشابوري**(رح):

يو لوئې شخصيت، لوئې فقيه او توانمن او يو متکلم ؤ. مرحوم شيخ طوسي دې د امام هادي عليه السلام او امام حسن عسکري عليه السلام له ملګرو بللی دی. او د رجال ځينو عالمانو هغه د امام هادي عليه السلام له اصحابو ياد کړی دی. دهٔ قابو **180** کتابونه ليکلي چې الايضاح کتاب په کښې د علم کلام او د عقائدو د شننې دی او ډير مشهور دي.

## د امام هادي عليه السلام قيمتي ملغلرې

**1**: امام د خپلو پلار نيکونو په حواله د پيغمبر له خلې فرمائي: ايمان هغه دي چې زړونه ئې ومني او د اعمالو په

وسيله څرګند شي. او د هغه تصديق وشي. او اسلام دا دی چې په ژبې جاري شي او وادۀ حلال کړي.
**2**: څوک چې له ځانه راضي او خوښ وي نو خفه کسان او ناراضيان به ئې ډير وي.
**3**: ټوقې او چټې کارونه د بې عقلو مشغولتيا او د ناپوهو کار دی.
**4**: څوک چې خپله دوستي، خير غوښتنه او خپل نظر ستا په واک کښې درکړي نو تۀ هم خپل اطاعت د هغۀ په اختيار کښې ورکړه.
**5**: څوک چې خپل ځان هيڅ نۀ ګڼي او ځانته هيڅ ارزښت نۀ ورکوي، د هغۀ له شره ځان بچ مۀ ګڼه.
**6**: دنيا يو داسې بازار دی چې په کښې ګټه وکړي او څوک تاوان .
**7**: څوک چې د خدائې پروا او ويره ولري، خلق د هغۀ پروا او ويره لري، څوک چې د خدائې اطاعت وکړي خلق به د هغۀ خبره مني او څوک چې خدائې مني او د هغه اطاعت کوي د مخلوقاتو د غصې او قهر پروا نۀ لري.
**8**: حليم او نرم ظالم، کيدی شي د خپلې نرمۍ په وجه وبخښل شي.
**9**: هغه کس چې په حقه وي او په کم عقلۍ او ناپوهۍ سره چلند کوي کيدی شي چې د خپلې ناپوهۍ او کم عقلۍ په وجه د حق نور مړ کړي.